# "خان عبدالولي خان کا سفر اخرت"

## د مخ کتنې دستوره

ماصل خان اتش

"خان عبدالولي خان کا سفر اخرت" په اردو ژبه کښې د پښتو ژبې د متحرک ليکوال او صحافي هارون الرشيد خټک هغه کتاب دے چې د خان عبدالولي خان د بيمارۍ، وفات، جنازې او تدفين احوال سره سره پکښې هغه تعزيتي بيانونه، پېغامونه، مضمونونه او د اخباراتو اداريې خوندي کړې شوې دي چې د خان بابا په وفات د ژوند د مختلفو اړخونو او ميدانونو د شخصياتو او تنظيمونو له خوا خوارهٔ شوي وو. دا کتاب د "اباسين پښتو ادبي جرګه خېراباد ضلع نوښار" له خوا د پروفېسر جهانزېب نياز په مالي مرسته چاپ شوے دے.

د دې کتاب د مخ کتنې دستوره په ګورنمنټ پرائمري سکول خېراباد کښې هم د اباسين پښتو ادبي جرګه خېراباد له خوا په ډېر درناوي ونمانځلې شوه. په دستوره کښې د مختلفو سياسي پارټو کارکنانو، شاعرانو، اديبانو، ناظمانو، کونسلرانو، د علاقې سپين روبو او صحافيانو ګډون وکړو. په دې دستوره کښې وفاقي وزير مملکت مسعود عباس خان خټک مشر مېلمهٔ او صدارت ئې زلمي شاعر اديب ښاغلي ډاکټر عرفان خټک وکړو. د دستورې اغاز د تلاوت کلام پاک نه تقويم الدين خټک وکړو. د نظامت چارې ښاغلي ماصل خان آتش ترسره کړې. دوي په مختصرو ټکو کښې د جرګې په کار او زيار، ادبي خدماتو رڼا واچوله، دوي په خپلو خبرو کښې دا ووئيل چې د جرګې له خوا د دې کتاب "خان عبدالولي خان کا سفر اخرت" سره نور نههٔ کتابونه چاپ دي چې پکښې ۱- خېراباد تاريخ کښې آئينې مين، ۲- ترليکي، ۳- باچا خان کا اخري سفر، ۴- بابا اجمل خټک د ادب جمال او د سياست جلال، ۵- دا اهونه دا دردونه، ۶- پښتو ادب کے معمار، ۷- د سپين غر د سره، ۸- تاريخ خټک، ۹- هارون الرشيد د شنو کاڼو خټک شامل دي. زلمي ليکوال ښاغلي ابراهيم شاه اظهار په کتاب خپله مقاله واوروله، دوي په خپله مقاله کښې ووئيل چې هارون الرشيد خټک ډېر په کوټلي انداز دا کتاب مرتب کړے دے او د خان بابا د ژوند، سياست، مبارزې او د خاندان نه ئې خلق خبر کړي دي. اظهار د کتاب په مختلفو عنواناتو خپل نظر وړاندې کړو او په خصوصيت سره ئې د حسن اتفاق عنوان او خان عبدالولي خان ۱۹۱۷ نه تر ۲۰۰۶ ډېر وستائيل چې په دواړو عنواناتو کښې ډېر د قدر وړ معلومات خوندي کړے شوي دي.

دوي زياته کړه چې هارون الرشيد خټک د ولي خان خاندان سره د مينې دا دوېم ثبوت دے او د دې کتاب نه ئې مخکښې "باچا خان کا اخري سفر" تر عنوان لاندې هم دغسې قېمتي مواد و نه ډک کتاب د باچا خان مئېناتو ته پېرزو کړے ؤ. ښاغلي اظهار په دغه زيار هارون الرشيد خټک ته مبارکي ووئيله.

مشر مېلمه وفاقي وزيرمملکت مسعود عباس خان خټک په خپله وينا کښې ووې چې خان عبدالولي خان د پښتونخوا د سيمې هغه سياسي

مشر ؤ چې د اصول پرستۍ، قابلیت، دوراندېشۍ، مثبت سیاست ئې نهٔ صرف پاکستان بلکې دنیا قائله ده. خان عبدالولي خان د جمهوریت دپاره، د مظلوم قامونو او په خصوصیت سره د پښتنو د حق دپاره ډېره زیاته قرباني کړې ده، د دغه دپاره د جېل تورې تمبې، د غدارۍ الزامونه او هر قسم تورونه زغملي دي، لېکن امریت ته ئې سر نهٔ دے ټیټ کړے.

مسعود عباس خټک د کتاب لیکوال هارون الرشید خټک ته ډېر ډاډ او حوصله ورکړه او دا ئې ووئیل چې دا کتاب په زیات تعداد کښې چاپول پکار دي چې د ملک د نورو سیمو خلق د خان عبدالولي خان د کردار او جدوجهد نه خبر کړے شي. دوي اباسین پښتو جرګې دپاره د خپله جېبه د دېرش زرو روپو عطیه ورکړه او د جرګې په غوښتنه او خواست ئې د تاریخي کتاب "توري او د قلم خاوند - خوشحال خان خټک" په خپل خرڅ د چاپ کولو وعده وکړه.

صدر تقریب ښاغلي ډاکټر عرفان خټک په خپله وینا کښې ووې چې زلمي لیکوال هارون الرشید خټک په لږ وخت کښې پښتو ادب سره سره اردو ادب ته هم ډېر کتابونه وبخښل او نوي نوي موضوعات ئې راوړاندې کړل. دوي د کتاب "ولي خان کا سفر اخرت" په حقله ووئیل چې دا خوارهٔ وارهٔ مواد راغونډول او دغو ته ترتیب ورکول او بیا کتابي شکل ورکول لوئے کار دے خو دا د لیکوال د ولي خان د خاندان سره د مینې او نظریاتي تړون برکت دے چې د "باچا خان کا اخري سفر" نه پس ئې دا دے بل کتاب د ولي خان عقیدت لرونکو ته پېش کړو.

ښاغلي عرفان خټک د اباسین پښتو ادبي جرګه خېراباد په ادبي خدماتو هم ښه رڼا واچوله او دا ئې ووئیل چې جرګه په تندۍ سره د پښتو ژبې خدمت کوي او د جرګې په کوششونو د ضلع نوښار حکومت د خوشحال بابا د مزار سردوباره جوړولو دپاره د دوویشت لکو روپو فنډ منظور کړو او د مزار د تعمیر ثاني کار سر ته رسېدلے دے یقیناً دا د جرګې اهم او د ویاړ کار دے.

ښاغلي لیکوال د خان عبدالولي خان په ګڼ اړخیز شخصیت هم په زړهٔ پورې رڼا واچوله وې وئیل چې پښتانهٔ ډېر خوش قسمته دي چې دوي کښې د خان عبدالولي خان غوندې عظیم سیاسي شخصیت زېږېدلے ؤ چې د خپلو اصولو، بهادرۍ، پوهې او اصول پسندۍ له کبله عالمي شهرت لري. دوي زیاته کړه چې د خان عبدالولي خان په شخصیت او سیاسي، اولسي خدماتو د نور کار ضرورت دے او دا کار هم د هارون الرشید خټک غوندې زلمي کولے شي.

په غونډه کښې ښاغلي طارق تاثیر، فېصل فاران، شعیب خټک، شمشاد علي شمشاد، انور زېب سحر، همایون هما، ماصل خان آتش، هارون الرشید خټک منظوم کلامونه واورول.

د کتاب لیکوال هارون الرشید خټک هم په خپله مختصره وینا کښې د ولي خان په شخصیت رڼا واچوله او دا ئې ووې چې ولي خان د پښتنو فخر ؤ او هغوي په هره موقعه د پښتنو د حقوقو، شناخت او عزت جنګ کړے دے، ولي خان یو ډېر عظیم دور اندېش سیاستدان او ملي لارښود ؤ، پښتانهٔ چې په ولي خان څومره هم فخر وکړي دا به کم وي.

تقریب کښې مقامي ناظم ملک زاهد خان خټک د مشر مېلمه په وړاندې د کلي علاقې د څهٔ مسائلو په حواله سپاسنامه هم وړاندې کړه.